## د وګړو سر شمیرنه (دویمه درجه)

| | |
|---|---|
| توضیحات | زده کوونکي به د ټولنې او خلکو د سر شمیرنې ارقام را ټول او تحلیل کړي ترڅو خپله ټولنه ښه وپیژني. |
| اړینه پوښتنه | آیا مونږ کولای شو د سر شمیرنې سروې د خپلې کورنۍ او ټولنې د پیژندلو لپاره په لاره واچوو؟ |
| ټول د اړتیا وخت | څه د پاڅه ۴ ورځو کې ۴. ۶ ساعته |
| د اړتیا توکي | قلم، کاغذ او خط کش |
| د زده کړې پایله | ۱ . د سروې د جوړولو وسایل چې معلومات پرې راټول کړو.<br>۲ . د یوه رقمه عدد په ضربولو سره د پوښتنې حلول.<br>۳ . د څلورو رقمه عدد په تفریق سره د پوښتنو حلول.<br>۴ . د ارقامو ساتنه: د سروې د ارقامو تحلیل<br>۵ . د ارقامو ساتنه: د ارقامو تحلیل او د هغوی ګرافیکي وړاندې کوونه.<br>۶ . کتبې بڼه: لنډیز<br>۷ . ارقام او اندازه کوونه: د ارقامو ښودل او تشریح<br>۸ . احصائیه: د ارقامو د کټګوریو د مقایسې او را ټولولو په اړه د پوښتل او ځواب ویل. |
| مخکینی زده کړه | د یوه رقمه عدد ضرب<br>د څلور رقمه عدد تفریق |

لومړی ورځ

نن به تاسو د سر شمیرنې سروې پیل کړئ.

| وړاندیز شوی وخت | توضیحات او فعالیتونه |
|---|---|
| ۵ دقیقې | پیژندنه |
| | - زده کوونکي به د خپلې ټولنې د سر شمیرنې سروې وکړي. |
| | - د سر شمیرنې موخه داده چې د ټولو خلکو چې په یو ځای کې اوسیږي د هغوی د عمر، جنسیت، دندې او داسې نورو برخو په اړه معلومات تر لاسه کول دي. |
| | - زده کوونکي به ګروپونه جوړ او وروسته به د خلکو سروې د خپلو کورنیو، خپلوانو او ګاونډیو په ګډون پیل کړي. وروسته به دوی دا معلومات تر لاسه کړي چې څو کسان په هره کټګورۍ کې شتون لري ( لکه جنسیت، عمر، دنده، |

زده کړه او داسي نور). هغوی به د هغو ماشومانو شمیر هم تر لاسه کړي چې ښوونځي ته ځي.

- وروسته به زده کوونکي یو لنډه مقاله او معلوماتو یو لنډیز ولیکي.

| | |
|---|---|
| ۲۰ دقیقي | • د سر شمیرني یو پوښتنلیک سره له ټولو پوښتنو چې هغوی غواړي له ګډون کوونکو وپوښتي جوړ کړئ.<br>• وړاندیز شوي پوښتني:<br>1. نوم دي څه ده،<br>2. په کورنی کي مو څو کسان دي؟<br>3. ستاسو په ګډون، ستاسو د کورنی د هر غړي عمر څومره ده؟<br>4. د هر غړي جنسیت وواياست؟<br>5. د کورنی د غړو دندي څه دي؟<br>6. آیا هغوی اوس:<br>الف: په ښوونځي کي دي؟<br>ب: په ښوونځي کي نه دي؟<br>ج: له ښوونځي څخه فارغ دي؟<br>۱۴ . آیا تاسو او د کورنی هر غړی مو لیک او لوست کولای شي؟ |
| ۳۰ دقیقي | زده کوونکي به هر ځواب ته کټګوري جوړوي.<br>وړاندیزونه:<br>8. د کورنی د غړو شمیر:<br>الف. ۱ ـــ ۴<br>ب. ۵ ـــ ۱۰<br>ج. له ۱۰ ډیر<br>9. د عمر/ سن کټګوري<br>الف. له ۱۸ کم<br>ب. ۱۸ ـــ ۳۰<br>ج. ۳۰ ـــ ۶۰<br>د. له ۶۰ ډیر<br>10. زده کړه:<br>الف. په ښوونځي یا کالج کي نوم لیکنه لري/ دکالج په ندي<br>ب. ښوونی/ کالج یي ندی بشپړ کړی یا د ښوونځي او کالج په عمر ندي<br>ج. په ښوونځي یا کالج کي نوم لیکنه لري<br>د. له ښوونځي څخه فارغ دي<br>۱۱. د جنسیت کټګوري:<br>الف. نارینه<br>ب. ښځینه<br>۱۲. آیا تاسو او د کورنی هر غړی مو لیک او لوست کولای شي؟<br>الف. هو |



ب. نه

د دندي لپاره کومه کټګوري کولای شي ور اضافه کړئ؟ د دندو لپاره یو څو انتخابونه ولرئ.

• د غړو شمیر په کورنی کي:

الف. ۱ ـــ ۴

EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link:
https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7

ب. ۵ – ۱۰
ج. له ۱۰ ډیر

- د عمر/ سن کټګوري:
  الف. له ۱۸ کم
  ب. ۱۸ – ۳۰
  ج. ۳۱ – ۶۰
  د. له ۶۰ ډیر
- زده کړه:
  الف. په ښوونځي یا کالج کي نوم لیکنه نه لري
  ب. په ښوونځي یا کالج کي نوم لیکنه لري
  ج. له ښوونځي یا کالج څخه فارغ شوي
- د جنسیت کټګوري
  الف. نارینه
  ب. ښځینه
- آیا تاسو او د کورنی هر غړی مو لیک او لوست کولای شي؟
  الف. هو
  ب. نه

د دندي لپاره کومه کټګوري کولای شي ور اضافه کړئ؟ د دندو لپاره یو څو انتخابونه ولرئ.

یادښت: که چیرته تاسو ډیرې پوښتني ور اضافه کوئ، ډاډ ترلاسه کړئ چي هغوی ته کټګوریاني جوړې کړئ.

وروستنی پوښتنلیک باید په لاندې ډول وي:

- نوم دي څه ده؟
- په کورنی کي دي څو کسان دي؟
  الف: ۱-۴
  ب: ۵-۱۰
  ج: له ۱۰ ډیر

ستاسو په ګډون، ستاسو د کورنی د هر غړي عمر څومره ده؟
الف. له ۱۸ کم
ب. ۱۸ – ۳۰
ج. ۳۱ – ۶۰
د. له ۶۰ ډیر

- ستاسو په ګډون د هر یوه جنسیت ووایاست؟
- نارینه
- ښځینه

EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link:
https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7

- ستاسو په کورنۍ کې د هر غړي لوړې زده کړې څومره دي؟

  - په ښوونځي یا کالج کې نوم لیکنه نه لري
  - په ښوونځي یا کالج کې نوم لیکنه لري
  - له ښوونځي یا کالج څخه فارغ شوي

- آیا تاسو او د کورنۍ هر غړی مو لیک او لوست کولای شي؟
  الف. هو
  ب. نه
- د کورنۍ د غړو شمیر چې لیک او لوست نشي کولی ولیکئ.
- د یوه غړي دنده څه ده؟ ( د دندو کټګوري ور اضافه کړئ)
- لاندې شکل ته په کتو یوه د ځواب ورقه جوړه کړئ چې له هر یوه کس سره تاسو مرکه کوئ:

- د هغو کسانو چې تاسو ورسره په کورنو کې مرکه کوئ په یوه بیله ورقه کې یې ځوابونه ولیکئ. د بیلګې په توګه، که د حسن کورنۍ څلور غړي ولري، تاسو به یوازې حسن سره مرکه کوئ. خو د هغه د کورنۍ د غړو ځوابونه به په یوه جلا ورقې کې لیکئ.

- د ځوابونو ورقې په ګروپونو وویشئ چې د کورنۍ هر غړي پورې تړاو لري او د ورقې په پورتنۍ برخه کې داسې ولیکئ؛ لومړی غړی، دویم غړی او داسې نور.

| ۱۰ دقیقې | انتقاد او بیا کتنه |
| --- | --- |

- زده کوونکي به د ورځې ټول کارونه (پوښتنې، د ځوابونو کټګوري او جوړې شوې پوښتنې) خپل ټولګي، والدینو یا د کورنۍ غړو ته د نظر غوښتنې او ښه والي لپاره وړاندې کړي. ټولګیوال، والدین یا د کورنۍ غړي لاندې شکل ته په کتو خپل نظرونه برابر کړي:

  - ستاینه: د زده کوونکي د کار تر سره شوي په اړه مو څه خوښ شول؟
  - پوښتنه: آیا د کار په اړه کومه پوښتنه یا وضاحت لرئ؟
  - وړاندیزونه: په کومه برخه کې زده کوونکی د کار ښه والي ته اړتیا لري؟



- زده کوونکي به وړاندیزونه او اصلاحات د خپل کار د ښه والي لپاره برابر کړي ( که چیرته وي).

EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link:
https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7

## دويمه ورځ

نن به تاسو خپله کورنی یا خپلوان یا د ټولني له غړو سره مرکه وکړئ.

| وړاندیز شوی وخت | توضیحات او فعالیتونه |
| --- | --- |
| ۱ ــ ۲ ساعته | • په دې فکر وکړئ چې څنګه له خپلې کورنی یا ټولنې څخه معلومات را ټولولی شئ.<br>• د مرکې لپاره وړاندیزونه:<br>- په شخصي توګه له ټولنیز واټن سره<br>- د هغو ملګرو یا خپلوانو لپاره چې لرې اوسیږي تلفوني اړیکي/ ویډیویي خبرې یا لنډ پیغامونه<br>- د کورنی له غړو څخه پوښتل یا یې په اړه فکر کول که چیرته دوی په څوابونو باندې پوهیږي او نه شي کولای چې مخامخ مرکه وکړي.<br>• د کورنی له غړو یا د ټولنې له ټولو خلکو سره مرکې ته دوام ورکړئ. کولای شئ چې خپلوانو سره د تلفون یا د پیغامونو له لارې مرکه وکړئ. که په شخصي توګه مرکه کوئ، ډاډ تر لاسه کړئ چې ماسک واغوندئ او ټولنیز واټن د شپږو فوټو په اندازه وساتئ.<br>• کله چې له خلکو سره مرکه کوئ، پوښتنه ترې وکړئ، بیا په کټګورئ کې انتخاب ته وګورئ چې د هغوی ځواب منعکس کړي. د بیلګې په توګه، که چیرته له ښوونځي څخه فارغ او په کالج کې نه وي، د ښوونځي د فراغت برخه د پوښتنلیک شپږمه پوښتنه د ځواب په ورقه کې په نښه کړئ. |
| ۱۰ دقیقې | • انعکاس/ښه فکر کول: زده کوونکي و هڅوئ چې په دوامداره توګه په تمرین باندې فکر وکړي. د دغه کار په لاره اچولو سره هغه میتود چې د مرکې لپاره یې کاروي دوام ورکړي.<br>• مرکه څنګه روانه ده؟ د هغې لارې په اړه چې تاسو یې د معلوماتو د راټولولو لپاره کاروئ څه احساس لرئ؟ کولای شي چې ښه شي؟ که چیرته هو، څنګه؟<br>• آیا کوم نوي شیان شته چې تاسو یې د دغې پروسې له لارې زده کوئ؟ |

یادښت: بل انتخاب که چیرته تاسو نشئ کولی چې په شخصي توګه یا د تلفون له لارې مرکه وکړئ هغه داده چې په ساده توګه د احتمالي ځوابونو په اړه فکر وکړئ یا د خپلې کورنی له غړو وپوښتئ که چیرته هغوی ستاسو ګاونډیان ښه پیژني. دا کیدای شي وروستنی ګټه اخیستنه وي که چیرته تاسو نشئ کولی چې خلکو ته د مرکې لپاره ورسیږئ.



EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link:
https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7

## دریمه ورځ

نن به تاسو د کورنۍ/ ټولنې د سر شمیرنې پایله تحلیل کړئ.

ورانديز شوی وخت　　توضيحات او فعالیتونه

۴۰-۶۰ دقیقو پورې

لومړی، لاندې چوکاټ ته په کتو یو چوکاټ جوړ کړئ او د ګډون کوونکو جزیات پکې ثبت کړئ. په پوښتنلیک کې د چوکاټ قطارونه د نومونو او د چوکاټ کالمونه د پوښتنو لپاره کارول کیږي. ټولو پوښتنو ته چې تاسو په پوښتنلیک کې ځای پرځای کړي کالمونه ور زیاد کړئ:

قطار

| نوم | سن | جنسیت | په کور کې د غړو شمیر | زده کړه |
|---|---|---|---|---|
| ساره | ۳۰ | ښځینه | ۳ | له کالج څخه فارغه |
| احمد | ۱۱ | نارینه | | په ښوونځي کې |
| کریم | ۶۲ | نارینه | | له ښوونځي څخه فارغ |

EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link: https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ثنا | ۱۶ | ښځینه | ۵ | په ښوونځي کې |

کالم

کله چې تاسو هغه خلکو سره مرکه کوئ چې ټول په یو کور کې ژوند کوي، د خلکو شمیر چې په دغه کور کې ژوند کوي یو ځل ثبت کړئ. د بیلګې په توګه، په پورتني چوکاټ کې درې غړي – ساره، احمد، او کریم په یو کور کې ژوند کوي. د ۳ شمیره د خلکو په کالم کې چې په یو کور کې اوسیږي ثبت کړئ.

۶۰-۴۰ دقیقو

- لاندې پوښتنې د لاربنود په بڼه د خپلې پایلې د تحلیل لپاره وکاروئ:
- په ټوله کې د هغه کور د غړو شمیر څو تنه وه چې تاسو سروې کړ؟ دې ته کتلو شمیر وایي.
- څو تنو ښوونځی لوستی؟
- څو تنه نارینه ګډون کوونکي تاسو پیدا کړل؟
- څو تنو دندې درلودې؟
- د خلکو د عمرونو کچه له لوړ څخه ښکته به خپله سروې ترتیب کړئ او متوسط عمر یې را پیدا کړئ.

ستاسو په ارقامو کې د کوم عمر خلګ ډیر شامل دي؟

آیا ستاسو په سروې کې نارینه ډیر دي یا ښځینه؟

کومو کټګورۍ خلکو ویلي دي چې ښوونځي یې پای ته رسولي دي - نارینه که ښځینه؟

څو تنه ښوونځي ته تلونکي ماشومان تاسو وموندل؟ آیا داسې ماشومانو شتون درلود چې د هغوی عمر ته په کتو باید ښوونځي کې وی، خو په ښوونځي کې ندي؟

عددي پراختیا:

فکر وکړئ چې ستاسو به سروې کې هر یوه وویل چې په کورنی کې یې ۷ تنه ژوند کوي. په دغو ټولو کورونو کې د خلکو شمیر څو تنه ده؟ ( حل: ۷ د کتنو شمیر سره ضرب کړئ)

فکر وکړئ چې ستاسو خپل ګاونډ سروې کړ او دا معلومات مو ترلاسه کړل چې ۲۳۰ کسه له ۱۰۰۰ کسانو څخه چې ژوند کوي لیک او لوست نشي کولی. د هغو خلکو شمیر څو تنه ده چې لیک او لوست کولی شي؟


په یوه پاڼه کې د هغه تحلیل ځوابونه را ټول او ولیکئ چې تاسو سرته رسولی دی.

دغه ځوابونه له خپل ټولګي، والدینو یا د کورنی له غړو سره شریک کړئ. ستاسو والدین، د کورنی غړي یا ښوونکی مو دغه تحلیل ګوري چې په سمه توګه تحلیل شوی او د کار د ښه والي لپاره د اړتیا په وخت کې تاسو سره خپل نظرونه شریکوي.

## ځلورمه ورځ


نن به تاسو د خپلې سروې پایله وګورئ او له خپلې کورنۍ سره به یې شریکه کړئ.

| وراندیز شوی وخت | توضیحات او فعالیتونه |
|---|---|
| ۱۵ دقیقي | د یوې لویې کورنۍ خیالي سروې پایله چې په لاندې ګراف کې ښودل شوې ده تشریح او لاندې پوښتنو ته ځواب ورکړئ: |




- څو تنه بزګران په دې کور کې ژوند کوي؟
- آیا څارنوالان له ښوونکو څخه ډیر دي؟
- ټولټال په دې کورنۍ کې څو تنه ژوند کوي؟
- په دغې کورنۍ کې څو تنه دندې لري؟
- کومه دنده ډیره عامه ده؟ دا هغه دنده ده چې ډیرې خلک یې لري.
- دندې له کوچنیو څخه لویو ته ترتیب کړئ او څو تنه دغه دندې لري؟

| | |
|---|---|
| ۳۰ دقیقي | اختیاري ننګونه: زده کوونکي خپل ځانونه ننګوي تر څو په بار ګرافونو کې د سروې د معلوماتو استازیتوب وکړي. لومړی یوه کټګوري وټاکئ چې تاسو یې غواړئ استازیتوب وکړئ. وراندیزونه: عمر، د ښځینو شمیر د نارینوو په پرتله، د زده کړو کچه او داسې نور. بیلګه: |






EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link:
https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7

مرحلې:
د یوه کاغذ پر مخ کیڼ خواته یو عمودي خط رسم کړئ. بیا وروسته پورته شکل ته په کتو یو افقي خط چې د عمودي خط له لاندنی برخې څخه پیلیږي او ښي لور ته ځي رسم کړئ. دا ستاسو محورونه دي. د ( Y) محور په گراف کې عمودي خط ده او د (X) محور د گراف افقي خط ده. دغه خطونه باید یو بل په لاندنی برخه د پاڼې کیڼ کونج کې یو بل سره قطع کړي.

د (Y) محور لکه د شمیرو عمودي خط په شان دی. تاسو کولای شئ د ۱، ۵ شمیرو په ډیرولو سره یا د شمیرو هر انټروال ولیکئ. که چیرته تاسو ډیرې کتنې نه لرئ، تاسو کولای شئ د (۰-۱۰) انټروال ولیکئ د بیلگې په توگه، ۰، ۱، ۲، ۳، ۴ او داسې نور لکه په تیر (زیر) گراف کې چې ترتیب شوي وه.
په دغه آسماني گراف کې شمیرې له (۰ څخه تر ۳۵) پورې د ۵ عددو په توپیر سره لیکل کیږي (۰، ۵، ۱۰، ۱۵ ... او داسې نور). د غه محور د سروې شوو خلکو شمیر ښیي. دغه سروې له صفر څخه پیل او د کتنې ټولو شمیرو سره پای مومي.

د (X) محور د ستاسو د پوښتنلیک د پوښتنو د کټگورۍ استازیتوب کوي. پورته شکل ته په کتو مستطیلونه د عمر، زده کړې، دندې او نورو کټگوریو لپاره رسم کړئ.

دغه مستطیلونه به د هرې کټگورۍ د شمیر په کچه لوړ وي. د بیلگې په توگه، په پورتني گراف کې نارینه گډون کوونکي ۳۰ تنه دي.

هر مستطیل ته سیورې ورکړئ یا یې رنگه کړئ.

آیا کولای شئ په پورتني چارټ کې د ښځینوو گډون کوونکو شمیر پیدا کړئ؟

۳۰ دقیقې
زده کوونکي به یو لنډ راپور د اړینو شیانو چې دوی کتلي جوړ کړي تر څو د سر شمیرنې لنډیز چې دوی په گراف کې برابر کړی دی ترتیب کړي. په راپور کې وړاندیزونه:
- ستاسو په سروې کې د ټولو خلکو شمیر
- د نارینوو او ښځینوو شمیر
- د ښوونځي لپاره عمر لرونکو او ښوونځي ته د تلونکو شمیر
- د هغو کسانو شمیر چې لیک او لوست کولای شي
- د بې دندو ځوانانو شمیر
- ډیرې یادې شوې دندې
- د ډیرو یادې شوو لوړو زده کړو کچه
- نور ارقام چې دوی را ټول کړي دي

| | |
|---|---|
| ۱۰ دقیقې | د کورنی له غړو څخه د ځینو پوښتنو آزموینه واخلئ چې د خپلې کورنی په اړه څه پوهیږي.<br>وروسته به زده کوونکي له خپلو کورنیو غړو سره د راپور پایله یا هغه پوښتونه چې دوی جوړ کړي سره شریک کړي. |



EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link:
https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7

۱۵ دقیقې | په ټوله کې د پروژې انعکاس/لنډیز

زده کوونکي به اوس په ټولو تمرینونو باندې چې دوی په ټوله اونی کې سرته رسولي دي فکر وکړي او د لاندې دوو برخوو ځخه به یادښت ونیسي.

- تر ټولو اړین درس مو له دغې پروژې ځخه کوم زده کړ؟
- کومې برخې ګواښونکې، سر ګنسونکي یا پرې پوهیدل یې ستونزمن ول؟
- کومه پوښتنه مو ډیره خوښیږي چې پرې بحث وکړئ؟
- کومه څه ستاسو لپاره زړه پورې وو؟

**د ارزونې معیارونه**

- د پوښتنلیک جوړول چې پوښتنې او د ځواب کټګوریانې لري.
- له لس تنو سره په شخصي یا په حقیقي بڼه مرکه او د هغوی معلومات را ټولول.
- په ښه توګه د پایلو تحلیل او د دریمې ورځې فعالیتونو ته ځواب ویل.
- د بار ګراف په مرسته د ګرافیکي تحلیل سمونه چې لږ تر لږه د ارقامو یوه برخه ولري.
- په اړینو معلوماتو چې له سرشمیرنې یا سروې ځخه تر لاسه شوي د یو څو جملو او راپور لیکل تر څو هغو ننګونو ته ځواب ووایي چې د سروې ګډون کوونکو لخواه پیښ شوي وي.

**د فعالیتونه اضافي بداینه**

- زده کوونکي کولای شي چې د سروې لپاره ډیرې پوښتنې ور اضافه او مناسب ځواب ولري.
- وروسته له سرشمیرنې ځخه، زده کوونکي کولای شي یوه موضوع چې ټولنه ورسره مخ ده وپیژني. د بیلګې په توګه، آیا پایله دا ښودلی شي چې ډیری ماشومان له ښوونځي ځخه بې برخي دي؟ آیا دا معلومات تر لاسه کولی شئ چې ډیری ځوانان بې دندې دي؟ بیا وروسته له دې زده کوونکي کولای شي چې یو پوستر جوړ او په مرسته یې دغه موضوع ګاني بیان کړي.

**د اسانتیا لپاره بدلون**

- زده کوونکو لپاره د پوښتنو او کټګوریو شمیر را کم کړئ.
- زده کوونکي کولای شي له خپل کورنو ځخه سروې پیل کړي.
- زده کوونکي کولای شي چې د پوښتنو او تحلیل کچه چې دوی یې په پای کې ځواب وایي را کمه کړي.



EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link:
https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7